لیکنه : امیرگران
۱۰ مارچ ۲۰۲۴


## د پاکستان غیرشفاف انتخابات او د سیاسی مشروعیت ننگونی:

### لــومړی برخـه

د ۲۰۲۴ کال د فبروری د میاشتی په ۸ مه نیټه په پاکستان کی پارلمانی انتخابات د ناامنیو ، اقتصادی ژور بحران ، سیاسی کړکیچ ، په بلوچستان ، پښتونخوا او نورو سیمو کی تشنج او مرګونی حملو په شرایطو کی تر سره شول ، د پاکستان نفوس له ۲۴۲ میلیونه څخه زیات او راجستر رایه ورکوونکی ۱۲۷۴۱۵۳۱۹ چی د ښځینه رایه ورکوونکو شمیره ۵۸۷۹۵۰۲۱ او د نارینه وو ۶۸۶۲۰۲۹۸ ښودل شوی چی په پورته شمیرو کی ۴۶۰۸۲۹ ځوانان یاد شوی ، د یادولو ده چی ځوانان د پاکستان د ټولنی ۶۰% تشکیلوی ، د پاکستان او د نړی ډله ایزی او سوشیل یا ټولنیزی رسـنی ( مطبوعاتی او الیکترونیک میډیا ، فیسبوک ، انستاګرام ، ټیک ټاک ، ایکس ویبپاڼه یا پخوانی ټویټر او داسی نوری ) رپوټونه ورکوی چی د ۸ فبروری ، ۲۰۲۴ کال په پارلمانی انتخاباتو کی د ځوانانو فعالیت ، د ټولنیزی میډیا له طریقه کمپاین البته د پاکستان د منحل اعلان شوی PTI یا پاکستان تحریک انصاف ګوند په ګټه ډیر مؤثر او بریالی وو ، د نوموړی ګوند زندانی مشر عمران خان د ټولنیزی میډیا له لاری پیغلی ، ځوانان او د تحریک انصاف د ګوند نور غړی انتخاباتی کمپاین او لاریونونو ته تشویق او رهبری کول ، زما په نظر د تحریک انصاف د ګوند رهبری د ډیجیټل او ټولنیزی میډیا له لاری عوام ، د ګوند غړی او ځوانان منظم او د نامساعدو شرایطو او سختو امنیتی ستونزو سره سره د رایو صندقونو ته راووتل او رائی ئی د وسلی په حیث استعمال کړی ، هغه ګوند او د رائی صندوق Ballot Boxته ئی رائی واچولی چی په هغه د دغه ګوند هیڅ نوم او نشان نه وو او نوموړی ګوند ئی په بریالیتوب سره لومړی پوزیشن ته راووړ چی دا د پاکستان په لنډ او مسخره تاریخ کی د لومړی ځل لپاره پیش شول او هم د لومړی ځل لپاره د ډیجیټل او ټولنیزی میډیا د کارولو په مرسته بریالیتوب ته ورسیدل دا ځکه د پاکستان د پوځی استبلشمنټ ، استخباراتو ، د انوارالحق کاکړ په مشری لاس پوڅی مؤقت حکومت او د انتخاباتو د کمیسیون لخوا ، دوی یانی د تحریک انصاف د ګوند کادرونو ، غړو او پلویانو ته د انتخاباتی کمپاین ، مظاهرو او د نظر څرګندولو اجازه نه وه او تر ظالمانه فشار او محدودیتونو لاندی ول ، له دوی څخه د دوی د خوشی او انتخاباتی مبارزی سمبول چی د کریکټ ډبره ( BAT ) وو هم واخیستل شو ، د پاکستان او سیمی سیاسی مبصرین په دی باور متفق دی چی عمران خان له زندانه انتخاباتی ستراتیژی کامیابه کړه او هم د امریکا د پخوانی جمهور رئیس بارک اوباما د ۲۰۰۸ کال د انتخاباتی مبارزو له هغو تاکتیکو او تجربو څخه په ګـټـه اخیسـتـو چی د ( Yes we can ) شعارونه ئی د

ځوانانو د عظیم پوتانسیل په وسیله عملی کول ، د پاکستان د ۸ فبروری ، ۲۰۲۴ تاریخی انتخاباتو عملاً په ډاګه کړه چی په پارلمانی ټاکنو کی د رایه ورکوونکو سترګډون د پاکستان لپاره ټولـنیز تـړون ( Social Contract ) یو حَل بیا ولیکه ، باید زیاته شی چی اجتماعی قرارداد په ۱۷۶۲ میلادی کال د ژان ژاک روسو لخوا د فرانسی لپاره لیکل شوی وو ، روسـو اصلاً د جینوا وو چی هغه مهال د فرانسی یوه برخه وه د قرارداد له مخی ولس به د رایو اچولو له لاری حکومت ټاکی او حکومت به خلکو ته په هره ساحه کی خدمتونه وړاندی کوی ، که حکومت ناکامیږی بیا خلک خپل باور او ووټ بیرته اخلی دا تړون بیا وروسته په اروپائی هیوادو کی له ۱۷ پیړی تر ۱۹می او تر اوسه مرعی الاجرا ده ، د پاکستان پارلمان ( ملی اسمبلی او سنا مجلس ) دی او هر ایالت هم ایالتی اسمبلۍ لری ، د پاکستان ملی اسمبلی 336 ( National Assembly ) سیټونه یا کرسۍ لری چی په دغو کی ۶۰ سیټونه د ښځو او ۱۰ سیـټونه د لیږکیو لپاره مخصوص یا ریزرف شوی دی چی دا ۷۰ کرسی د پاکستان د Deep State یا استبلشمنټ لخوا خپلو لاس پوڅو ګوندونو ته ورکول کیږی ، خو په دغو غیرشفاف او له درغلیو ډکو انتخاباتو کی همدا ۷۰ ریزرف او مخصوص سیټونه د تحریک انصاف ګوند ته چی رسماً د فعالیت اجازه نه لری ، او ازاد کاندیدان ئی انتخاباتو ته درولی ول ، برسیره پر دی چی د ملی اسمبلی اکثریت ووټونه ئی ګټلی ول او د قانون له مخی ئی د ۷۰ ریزرف سیټونو د خپلولو لپاره په پارلمان کی ، د MWM یا مجلس وحدت المسلمین او سنی اتحاد کونسل تر چتر لاندی را ټول شول ورنکړل ، د تحریک انصاف د ګوند لخوا نومول شوی ازادو کاندیدانو د درغلیو ، تعقیب او لاس وهنو برسیره د مرکزی اسمبلی ۱۸۰ سیټونه ګټلی چی د حکومت جوړولو لپاره ۱۶۹ کرسی ضرورت ده ، په انتخاباتو کی نوازشریف ، پخوانی د دفاع او خارجه چارو وزیر خواجه اصف او په سل ګونو نور مسلم لیګی او د پیپلز ګوندونو افراد له ناکامۍ سره مخامخ شول ولی د پاکستان د انتخاباتو د کمیسیون ، پوځ او استخباراتی شبکو د بی شرمانه او لوڅو مداخلو له امله د هغوی د رایو صندقونه په جعلی رایو ډک او کامیابه اعلان شول ، د انتخاباتو د کمیسیون لخوا وروسته له څلورو ورځو په غیر قانونی توګه د غیرشفافو انتخاباتو نتایج په لاندی ډول اعلان شول:

د تحریک انصاف ګوند تر چتر او حمایت لاندی ازاد کاندیدان د ملی اسمبلۍ ۱۰۱ سیټونه ،

د نوازشریف په مشرۍ مسلم لیګ ګوند ، ۷۵ سیټونه ،

د پاکستان د خلکو ګوند ، ۵۴ سیټونه ،

د مهاجرو قومی غورځنګ ۱۷ سیټونه ،

د ملا فضل الرحمن په مشرۍ جمعیت علمای اسلام ، ۴ سیټونه

پښتونخوا ملی عوامی ګوند ۱ سیټ ( محمودخان اڅکزی)

بلوچستان نیشنل ګوند اختر مینګل ،

د اسفندیار ولی په مشرۍ عوامی نیشنل ګوند ۰ ، د امیرحیدرخان هوتی او ایمل ولی په شمول ټول ناکام ،

محسن داوړ او څنی نور له وزیریستان څخه ناکام کړی شول ،

دلته دا یادونه ضروری ده چی د ښځینه وو له ۶۰ او د لیږکیو قومونو له ۱۰ سیټونو څخه د نواز مسلم لیګ ګوند ته ۳۳ چی مجموعی تعداد ئی ۱۰۸ کرسیو او د پاکستان د خلکو ګوند ته ۳۱ سیټونه ورکړل شول چی تعداد ئی ۸۵ کرسیو ته لوړ کړای شو له دی امله د دوی لړزانه ائیتلاف په ملی اسمبلی کی ۱۹۳ کامیاب کړای شوی نوماندان تشکیلوی او د ۱۶۹ څخه د زیاتو سیټونو په درلودلو د موافقی له مخی د شهباز شریف په مشرۍ به د لړزانه حکومت جوړولو جوګه وی ، دا وضاحت هم اړین ده چی له نوازشریف او د ده له کشر ورور شهباز شریف ، او هم مسلم لیګ ګوند سره د پاکستان د ځواکمن استبلشمنټ افشاء شوی معامله د لـندن پلان یا ( لندن معامله ) وه ، د دغی معاملی له

مخی به په انتخاباتو کی مسلم لیگ گوند بریالیتوب ته رسول کیږی او نوازشریف به د څلورم ځل لپاره صدراعظم کیږی ولی د خلکو رایو د لندن پلان ناکامه او اجتماعی قرارداد ئی یو ځل بیا ولیکل ، نواز شریف ، د مسلم لیگ او خلکو د گوندونو اکثریت رهبرانو ته رائی ورنکړی ، ولی د انتخاباتو د کمیسیون لخوا په انتخاباتو کی د مسلم لیگ گوند په گټه د نتایجو په بدلولو کی په پراخه کچه درغلی او تقلب وکړ ، د بیلگی په توگه د لاهور په یوه انتخاباتی حوزه کی د نوازشریف په مقابل کی د عمران خان د گوند یوه ښځه ډاکتره یاسمین راشد وروسته له انتخاباتو کامیابه اعلان شوه مگر په سبا ئی نوازشریف د هغی په مقابل کی کامیابی ته رسولی او ډاکتره راشد ناکامه وپیژندل شوه ، همداسی په ټول پاکستان کی د انتخاباتو نتایج او د خلکو امانت مخکی له مخکی غلا او پایلی د پوځ په خوښه بدلیږی ، باید زیاته شی چی د پاکستان په تاریخ کی هیڅکله هم شفاف او ازاد انتخابات نه دی شوی او د خلکو رائی او mandateغلا شوی چی پایلی ئی په پاکستان کی جنگ ، بی ثباتی ، سیاسی ، اقتصادی او امنیتی بحرانونو ته لاره خلاصه کړی ، پاکستان همدا اوس له یوه ستونزمن پړاو څخه تیریږی ، پاکستانی پوځی استبلشمنټ له تاریخ څخه د عبرت درس نه اخلی چی د هسپانوی نژاده امریکائی پروفیسور ، سنتایانا په قول بی له شکه به بیرته پری راگرځی ( Those who ignore history are doomed to repeat it)

په۱۹۷۰ انتخاباتو کی د شیخ مجیب الرحمن په مشری عوامی لیگ گوند انتخابات وگټل خو د پوځ لخوا منډیت غلا او حکومت عوامی لیگ ته ونه سپارل شو ، مجیب هم د « شرقی پاکستان » د مرکز ډاکه په ستر مارش چی په پلټین میدان کی د مارچ په ۰۷ ، ۱۹۷۱ ترتیب شوی وو او لس لکو خلکو پکی گډون درلود په بنگالی ولس غږ وکړ چی د ازادئ لپاره وجنگیږی هغه وخت چی مجیب د وینا لپاره ستیج ته راغی د مارش کوونکو لخوا په بنگالی ژبه لاندی شعارونه په تکرار سره ورکول کیدل:

آماردیش ، توماردیش

بنگلادیش ، بنگلادیش

شیخ مجیب په خپله تاریخی او انقلابی وینا کی د هغه وخت « شرقی پاکستان » بنگالی ملت ته وویل چی د خپلو حقونو لپاره په اتلولئ وجنگیږی او هم ئی د پاکستان پوځی او ملکی مسلط استبلشمنټ ته التیماتوم Ultimatum ورکړ چی د انتخاباتو پایلی او د خلکو گټلی رائی ومنی ، احترام ورته وکړی او قدرت د خلکو منتخبو استازو ( چی عوامی لیگ گوند وو ) ته وسپاری او که له دغه قانونی او حقوقی غوښتنو سرغړونه کیږی په هغه صورت کی بنگالیان مجبور دی چی د سرونو په قربانئ ازادی ترلاسه کړی ، چی همداسی وشول او د سترو قربانیو په ورکولو ئی په ۱۶ دسیمبر ۱۹۷۱ ازادی ترلاسه کړه او د « شرقی پاکستان » بی بنیاده او خام فصل په همدغه نیټه پای ته ورسید او د ارواښاد ابوالکلام ازاد ارمان پوره شو .

*****

د ۸ فبروری ۲۰۲۴ غیرشفاف انتخابات ، تقلب او درغلی ، د شهباز شریف صدراعظم او اصف علی زرداری جمهور رئیس لخوا ائتلافی لړزانه حکومت ، په پاکستان کی د دموکراسئ نه نهادینه کیدل ..... په بله برخه کی

ادامـــه لری

نېټـه : ۲۰۲۴-۰۳-۰۶